
دسپیڅلي سیرت او تلپاتي صورت ژوندي مثالونه:

# أسلمي ځوانان

درښتیونو پیښو یوه
رښتیوني انځورګري



انځورګر:
نظام الدین
"شائق"

# دکتاب پېژندنه

دکتاب نوم : اسلمي خوانان
لیکوال : نظام الدین "شائق"
کمپوز : عبدالشافي
دچاپ کال : ۲۰۰٦ عیسوي
کچه : $7\frac{1}{2} + 3\frac{1}{2}$
دپښتي انځور : شائق
خپرندویه ټولنه : داسلامي دعوت او ثقافت علمي مرکز جهانګیرې نوښار پاکستان
مرستندوی : مهندس احمد شاه ((احمدزی))
پلورنځای : میرویس خپرندویه ټولنه بورډ ناصر باغ رود پېښور
بیه : ۳۰ روپۍ.

د کتاب هر ډول حقوق له لیکوال سره خوندي دي

# ډالــۍ

اسـلمي خوانـان همـاغو توريـاليو خوانـانو تـه ډالـۍ کـووم، چې
دتـورو شـرنګهار بـه يې کلـه پـه لويديخـه افـريقا او کلـه هـم پـه
جنوب خـتيځه اسيا کې اوريـدل کېـده* او اسـونو بـه يې کلـه د
جيحون اوبه ځنبلې اوکله د ګنګا و.

په خورا تولـه مينه

(( شائق ))

د ستر ښښتن په نامه

# دسریزې په توګه

د ادب په ډګر کې دنبوي قلمرو د اتلانو کیسې په رینښتیا هم دبرم او پرتم نه ډکې کیسې دي چې تاثیر او اغیزې خورا ډیر پیاوړی دی !

دنن په نړۍ کې زمونږ نوی توکم پخواتردې چې دلویدیځ د وراسته تمدن د پوګه ادب ترغبېزې لاندې راشي او پر ویاړلي تاریخ، سپیڅلیو اخلاقو، او سوچه منطق یې دنوي جاهلیت سویری وشي، دېرون په نسبت همدا نن ددغه ستر او لوړ ادب دلویو خزانو را سپړلو ته اړدی.

دنوي توکم لپاره دنبوي سپیڅلي روزنتون د اتلانو کیسې د ادبي معاصر ذوق په تناسب په ساده او بسیطو اسلوبو سره لیکل خوراستره کارنامه ده .

دلوی څښتن دستر استازي تګ لاره داوه چې هغه به هم له وګړو سره دهغوی د علمي او عقلي ارزښتونو په تناسب خبرې کولې.

په دغه کتاب کې مونږ ددغو اتلانو د اتلولیو په لور د یو منل شوي لیک دود سره په همدغه تګ لاره تله کړي.

که خدای کول دغه کتاب به تاسو ذخو داسې اتلانو په رښتیونو پیښو او لوړو بشري تجاربو بسیاکړي چې د اسلامي سباوون په لومړنیو درېوو لسیزو کې یې د آسمان د ځلانده ستورو حیثیت درلود.

د پرو درنو لوستونکو !

دافغان مظلوم ولس دنوي توکم دعلمي او ادبي ويښتابه په لړکې زمونږ د مطبوعاتي پاڅون دخپرونو په بهر کې لومړنی تکل (دسمڅوياران ) اودويم تکل : (( څلور واړه ياران )) اودريم تکل يې ((اسلمي خوانان )) هم ستاسې مخې ته کيښودل شو !

په باور سره وايم چې د منصوصي رواياتو دغه په زړه پورې تولګه به له دغه هنري خوند او رنګ سره ستاسې ادبي اوثقافتي تنده ماته کړي .

په پای کې به نوداهم ووايم چې زه دخپلې مطبوعاتي لړۍ دغه کړۍ هم د ستر علم پال او ادب پوه درانه شخصيت ښاغلي مهندس احمد شاه " احمدزی " دمالي ښيګڼو مرهونه بولم چې په دې توګه يې زه دزړه دتل نه مننه کوم هاند يې مشمر او ژوند يې بختور غواړم.

اوس نو دا تاسې اوداهم اسملي خوانان.

نظام الدين " شائق "

خپل کور جهانګيري نوښار پاکستان

۱۹/ ۲/ ۲۰۰۶ م

# اسلم

له اتیاو کورنیو څخه جوړه دغه عربي قبیله چې دمدینې منورې په جنوب لویدیخ کې، سرې بحیرې ته څیرمه یې د غباثر د سیمې د جهینه دغرونو په تړانګو کې استوګنه درلوده. داسلامي تاریخ پاڼې یې!( بیاپه تیره دخدای دستر استازي د ژوندانه په اوږدو کې تل رڼې ساتلي .) د خدای د استازي په غوره یارانو کې په رښتیا هم اسلمي ځوانان دهغه د ډیرې پام لرنې وړ ګرځیدلي و.

په یو زیات شمیر نبوي لارښوونو کې ددغې قبیلې برم اوپرتم ته نغوتې شوي چې دغه څو بیلګې یې ستاسې مخې ته ږدو!

• (( دلوی څښتن به داسلم قبیله روغه رمتیه وساتي. اود غفار قبیلې ته به بښنه وکړي . دازه نه وایم بلکې الله ویلي دي ))

• (( قریش او انصار، مزینه او جهینه ، اسلم او غفاري قبائل تر خدای اورسول پرته نور بادا ران نه لري. ))

• دبنو تمیم له مشرانو څخه داقرع بن حابس په نامه یو سړي دخدای استازي ته وویل: داسلم، غفار او مزینه قبایلو څو تنو داړه مارانو له تاسره بیعت او تړون وکړ اوتا زښت زیات سرلوړي کړه ؟! دخدای استازي ورته وویل : (( ته څه خبر یې چې که اسلم، غفار او مزنیه قبائل، له بنو تمیم، بنو عامر، اسد او غطفان له تاواني او زیانمنو قبیلو څخه غوره

اوسي؟ )) اقرع وويل: هو ! کيدلای شي . دخدای استازي وويل : (( قسم زمادخان پر واکمن چې دوی له هغوی څخه په څو چنده زيات غوره دي ))

# ښکاري ځلمی

بحرته مخامخ دغره د ارخې په اوږدو کې ديوې سپيرې ډيرې ترسيوري لاندې غلی کيناست... دمنځني قد اوقامت دغه اسلمي زلمې چې ايله بيله يې دژوند يويشتم پسرلی واهه، دصحرا سوزونکي لمر يې غونه داسې ور اړولې وه چې د جهينه دغره له ډبرو سره يې په زحمت توپير کيده!! زلمې پرخای دروند ناست و،يواځې عقابي سترګو به يې دچاپيريال څارنه کوله ، هسې تابه ويل چې کوم مسوٶل پوځې د چا مکار دښمن په څارنه بوخت دی!! او کله کله به يې دشنه سمندر په څپوکې دشنه آسمان په زمردي ښکلا اودلمر د ځلانده وړانګو پرانعکاس سترګې ورخښې کړې.

خيږ اوډبل لاس يې دخپلې لغړې اوږې لور ته ورپورته کړ او لينده يې راواخسته اودخپلې سينې سره يې جوخته ونيوله ... دادهغه وسله وه.. هو! يواځنۍ اوپه زړه پورې وسله چې په ډير زړه چاودونې نول او زول سره يې ترلاسه کړې وه:دی څو څو وارې د جهينه،د غرونو په لوړو دبدر بازار ته ورتير شوی و؛ هلته به يې خان د حاجيانو او سوداګرو خدمت ته چمتوکړ.. هغوی ته به يې له ځاګانو څخه اوبه راوړلې، دسورالی ځاروي به يې ورته

پوول او په بدل کې به يې له هغوی څخه څه پيسې تکې ترلاسه کولې... پای داچې دی ديوې ليندۍ خاوند شو!

دغه ليندۍ دده د کورنۍ لپاره ډ روزۍ ګټلو يوه ستره وسيله وه. له بله پلوه دجهينه د کارجنو سپيرو او ډبرينو غرونو په ترانګو کې ښکار کول هم څه اسانه اوساده خبره نه وه.. خرو، غرڅو او هوسيو لاپخوا ورڅخه کډه کړې وه! داخل هم اسلمي زلمي د اکوع زوی سلمه د جهينه لوړې او ژورې ګز او ګام کړې خوپه ښکار بريالی نه شو، ورو ورو دبحر لور ته ورشيوه شو، ښايي په کوم بحري ښکار به دلوږې درد دواکړي؛ مګر ساحل د جهينه له سپيره غره څخه لاسپيره برښيده، اودبحر بې رحمه څپو هم کوم کب دده مخې ته ور ګذار نه کړ چې ده پرې خپل درد دوا کړی وای پای داچې بېرته دغره ترانګو ته په تلوار شو.. دلارې په اوږدو کې يې دخادميو او سمسيرو سوړې وپلټلې؛ښايي په دې توګه به دزړه وتکې بند کړي،خودازميښت په دغه پړاوکې يې هم برې په برخه نه شو.. خپل نفس ته يې وويل: مامعاف کړه زه ستالپاره په وس کې څه نلرم.

# د قريشو غوښتنه

دغره له اړخي څخه په جنوبي افق کې دوه تنو سپين سپڅليو سپرو (چې په سپينو جامو کې يې دلمر وړانګو خلاکوله) دده د عقابي سترګو ليده. کاته خپل ځان ته جلب کړه.. پرځای نبغ

ودريد ، د ښي لاس څپک يې دلمر د نيزو وړانګو په وړاندې د ورڅو پرسر څپر کړ.. په دې توګه ښايي دغه دوه تنه سپاره به دې بې له څنډه وپيژني !!

پرون يې دخپلو کليوالو څخه د دوو تنو په اړه چې قريشو ته هدف او مطلوب دي څه خبرې اورېدلې وې ! قريشو دهر سرپه بدل سل سل اوښان منلي و چې که چا يې مړي او ژوندي دهغوی په واک کې ورکړ، نود سلو سلو اوښانو مښته به يې بې له څنډه په برخه شي

دقريشو په اعلان د اسلمي زلمي د مخ ګونځي وغوړېدې.. له خانه سره يې ورو غوندې وويل : داد قريشو غوښتنه ده ... دوی هغوی ته هدف او مطلوب دي... دباد په څير ولاړ او کلي ته څيرمه په يوه لوړه ودريد او دعربو د فولکلور سره سم يې د (( يا صباحاه .. يا صباحاه ... )) چيغې له خولې څخه پورته کړې.. اسلمي سپين روبي اوځوانان يې شا او خواته ودرېدل ... په يوه سايې تولو ته همدا خبره وکړه:

هغه دواړه پر ساحل روان دي .. هو! ما په خپلو سترګو وليدل ... هو! دقريشو غوښتنه ... دقريشو هدف !

هلئ ژر کوئ! سرې لاندې کړئ! داوښانو ګردلې ترلاسه کړئ.. دادی زه دهغوی لورته ترتاسو دمخه ورځم، دقريشو ضخيمه جانزه به که خدای کول زه ګټم. سلمه دسپرو خواته ګړندی ورغې او څيرمه ديوې ډبرې شاته کيناست اودلارې په اوږدوکې ددغو دوه تنو سپرو په څارلو بوخت شو. سلمه نه پوهيده چې څه به

وریپښېږي ...؟! دواړه سپاره یې چې کله لـه نیږدې څخه ولیدل اود مالګینو مخونو ځلایې ورته جوته شوه.. نو اوږدې او ناڅاپې ساګانې یې بیخي رالنډې او په رګونو کې یې وینه پرنډ شوه.. پرتندې یې دخولو څو یخ اوړانه څاڅکي پرمخ ښکته ورغښتل.

څه جمال او جلال ؤ چې په یوه ګړۍ کې یې دده په چاپیریال دخاموشۍ څادر وغوړاوه !! دبحر څپو اوشګلن ساحل دسپرو جمال او جلال لاپسې جوت کړ... ده به په یوه ساهمدا ویل : ای داسلم پرګې ! چیرته ورک شوئ؟ دقریشو هدف مند سرې در څخه خلاص نه شي.. پرتاسې څه وشول .. په لاسونو کې موتورې نـه تینګیږي اوکـه څـنګه ؟! لویـه ښتـنه! دازه څـه ګـورم. دامالګینې ځلانده څیرې.. داخوږه اوزږه رابښکونکې هـوا .. د دوی په رانیزدې کیدو څو زما خواته پسرلی رانیږدې کیږي.. اوشیبه پرشیبه رانیږدې کیږي !

دسپرو دجمال اوجلال ، هیبت او عظمت له کبله اسلمي زلمي هغوی ته په برندو سترګو کتلای هم نه شول . فکر یې وکړ چې دغه پیاوړي او ښتلي سپاره به چیرته ځي .. هرو مرو څه غیبي ځواک ددوی پرساتنه او څارنه بوخت دی !

سپاره داسلم سړیوته چې دلارې پرسر ولاړو نبه رانیږدې شول. مګر چاهم ددی جرأت ونه کړ ترڅوله سپرو سره څه خبرې واړوي !

دقبیلې مشر دحصیب زوی بریده دخپلو سړیو په سرکې چوب ولاړ و ..

خو لـه يي خبروته چمتوکوله مگر دخدای استازي ( ص ) پری دمخه شو او ورتـه يي وويـل : ( څوک ياست ؟! ) مشرپه لړزيدلي غږ سره ورتـه وويـل : بـريده ! دخـدای استازي خپل يار . ابو بکر رضی الله عنه ته مخ کړ او ويويل :

( کـه خدای کول خبره سره او روغـه ده .. ) بيا يې ورڅخه وپوښتل :

( لـه کومې قبيلې سره اړيکې لرئ ؟! ) بريده درسالت او نبوت دهيبت په وړاندې دسر پـه خوځولو سره وويل : داسلم له قبيلې سره ! دخدای استازي بيا خپل يارته وويل : (( که خدای کول نو صحيح سلامت يو )) بيايې بريده ته وويل : (( له کومې کورنۍ سره اړيکې لرئ ؟! )) بـريده وويـل : دبنو سهم لـه کورنۍ سره ! دخدای استازي خپل يارتـه وويـل : (( ابـو بکره ! ستا سهم جوت شو )). کله چې بـريده دخدای له استازي سره خبرې واړولې اولې يي څه زړه ډاډه شو نو ورڅخه يي وپوښتل : ته څوک يې ؟ دخدای استازي وويل : (( زه محمد دعبدالله زوی دخدای استازی ... ))

بـريده : دخـدای استـازی ؟ !! هـو ! دکعبې په رب قسم چې دی هرو مرو دخدای استازی دی .. دصداقت نښې يې په تندي کې له ورايـه بـريښي ! داد بـرم اوپـرتم نه ډک مخ ، دروغجن مخ نه دی ! دده دمـنطق حـلاوت اوصـداقت زړونوتـه پـرتـه لـه اجـازې وردنـنـه کيږي ! هغه بشري نفس چې دحق په لټه کې وي هرو مروبه يي دده په خبرو کې ترلاسه کړي؛ ددی خبرو سره جوخت بريده دزړه دتل نه په خپله ژبه دغه توري زمزمه کړه :

(( أشهد أن لا اله إلا الله وأن محمداً رسول الله ))

ای داسلم سپین روبو او ځوانانو! راشئ اوله ماسره یوځای دغه توري زمزمه کړئ !! دبریده دامر سره جوخت دقوم غړي، هسکې شوې اوحنجرې یي دایمان په تورو وخوځیدې ، چې دبحر دځپو ادغرونو دګړنګو ترمینځ یي انګازې پورته شوې .

اسلمي زلمي . سلمه . هم ددغه تورو په زمزمه کولو سره په خپل زړه کې دایمان په نوې ځواک وپوهیده . ﷺ

بریده وویل : الحمد لله چې دسهم کورنۍ په خپله خوښه داسلام ترقلمرو لاندې ورغله !

اسلمي قافلې خپله تګلاره بدله کړه ، دقریشو دمنبتې پرځای یي دتوحید او رسالت منبتوته سرونه ټیټ کړه ، دادی دبریده ترسرمشریزې لاندې دخدای داستازي څخه وړاندې اووروسته ، نبي اوچت لورته روانه ده .

دلارې په اوږدوکې دبریده پګړۍ ویجاړه شوه هغه یي ترخپلې نیزې وتړله اودخدای داستازي لپاره یي لوا ، او رېۍ جوړه کړه .. دانومړنۍ رېۍ وه چې په اسلام کې رپانده شوه .

دغه جنګیالي چې دخدای پراستازي باندې ددارې غورځولو پرقصد وتلې و ، مګر دورځې په پای کې په خپلو وسلو سمبال خو دده تررېۍ لاندې خپلو خونوته ورستانه شول .

دخدای استازي دماسخوتن لمونځ دهغوی په خیمو کې اداکړ ، اودوی هم دلومړې ځل لپاره دنبوت له خولې څخه قران واورید .

بیا دخدای استازي او ورسره ملګرې یې داسلمي ځوانانو په بدرکه دمدینې لورته وخوځیده .

# بدر

وچ کالي پای ته ورسیده اودعباثر دره په شنیلیو وپوښل شوه ، دبائن کاریزونه وبهیدل . اودرضوي ( غره ) لمن تکه شنه شوه . دبیرو ونې وغوړیدی ، دجهنیه تړانګې له سویکو ، هوسیو ، او غرڅوڅخه ډکې شوې، دسارانیو خرو دروبندجوړشو ، په اسلمیانو دروزی، دروازې ورپرانستل شوې . خونې یې دخیر اوبرکت نه ډکې شوې .

کله به چې دخپل مشر بریده په کورکې سره راټول شوه نو یواځې دهماغې جګړې په اړه به یې خبرې کولې چې څو ورځې ترمخه په بدر کې دمسلمانانو اوکفري قبائلو ترمینځ تیره شوې وه ، سلمه دخپلې قبیلې لورته ګرندی روان ؤ چې خپل ملګری ربیعه یې په نظر ورغې ، نابېره یې ورته غږ کړ :

هلکه ربیعه ! چیرته ګرندی روان یې اوله کومې خوا راغلې ؟

ـ دبدرله لوري ( چیرته چې دخدای استازی له خپلو یارانو سره ځای پرځای شوی. و دخدای استازی په بدر کې و ؟ ! ایا تا ولید ؟ ؟ ! )

ـ هو! ماپه خپلو سترګو ولید ( هماغه جلال اوجمال ابو بکر اویاران یې )،

اوزه دبدر جګړې ته هم ورغلې وم .

ـ داخه ډول جګړه وه ژرکوه کیسه راته وکړه !

ـ هو! سلمه ! داستره تاریخي پیښه ، دېرم اوېرتم نه ډکه جګړه ، دالهي مرستو ښکارندوی وه .

څو ورځې دمخه زه دخپلې قبیلې دسپرو سره دبدر په لور روان شوم ، لـه ماسره دوه درې دانـې پوستکي هم و ، ماغوښتل چې دابه دبدر په بازار کې وپلورم ، چې په دیکې نابېره د دخدای پراستازي . چې دجګړې لپاره یې صفونه برابرول ورپیښن شوم ، دقریښو دلښکر پلي اوسپاره یې په مقابل کې له ورایه بریښیدل ، په څو شیبو کې ددواړو ډلوترمینځ خونړۍ نښته رامینځ ته شوه ، مګـر مـاپـه غـړولـو سـترګو ولـیـدل ي یـوه ډیـره وړوکـې بې سراوسامانه ډله ، پریوه لویـه ډله برلاسې شوه ، دسرمشرانو په شمول یې اویاتنه ورځخه ووژل اواویاتنه یې ورځخه برمته کړه ، او ستره و لجـه هم دمسلمانانو لاس تـه ورغلـه ! دالیندکه وګوره چې ستا ترلیندی غوره ده دامې هم هلته ولجه کړه .

ـ داراته ووایه چې دغه جګړه څنګه مینځ ته راغله ؟

ـ داسې و چې دخدای استازی له یو شمیر یارانو سره له مدینې څخه په دی قصد ووت ترڅو دابو سفیان تجارتي قافله چې دشام له لورې مکې تـه وررستنیږي ولجه کړي ... مګر دیـو خبر پـه اوریدلو سره چې دقریشو لښکر ددغې قافلې دساتنې په خاطر له ملکې څخه راوتلي اودبدرر په لور روان دي ، دخدای استازي هم هلته خپل مسیر بدل کړ اودبدر په لور وخوځیده!

دکعبې په رب قسم کـه تـالیدلې وای نـو هـک پـک او اریان بـه پاتې شو وای چې درې سوه اودیارلس کسان په اویاو اوښانو سره

سپاره و اوډېر لږ ملګري يي په وسله سمبال و ، مګربرې هم ددوی په برخه شو .

جګړه څنګه پيل شوه ؟ کيسه کوه !

جګړه دعربوله دود سره سم دمبارزې په شکل کې پيل شوه اوهغه داسې چې : دقريشو لـه صفونوڅخه درې تنه مبارزين : دربيعه خامن : عتبه اوشيبه ، اودعتبه څوی وليد ، ډګر ته راووتل اومسلمانانو ته يي دمبارزې چيلنج ورکړ ، دخدای استازي دمبارزې لپاره درې تنه انصار ورووېستل ، مګر هغوی خپل خانونه تردوی لوړ وګڼل اوويويل چې : زمونږ سيالان رامينځ ته کړه !

دخدای استازي هم دهغوی لـه غوښتنې سره سم درې تنه قهرمانان :

حمزه ، علي ، او عبيده ورميدان ته کړه .

ـ ښه نو بيا څه پيش شول ؟

هو! حمزه خپل اندولی وواژه ،او علي خپل ، دعبيده او دعتبه ترمينځ دتورو ګذارونه تبادله شول ، دواړو يوبل ته ژور ټپونه واړول ، مګر حمزه اوعلي په خپلو تورو دعتبه دژوند مراندې ورلنډې کړې ، اوټپي عبيده يي دخدای داستازي خدمت ته سوب کړ . نيکمرغه عبيده و چې دخدای استازي يي په خپلو بختورو لاسونو دمخ دوړې ورپاکولې .

ددغسې صحنې په ليدلو سره ربيعه داوښکو په بدرګه چيغه پورته کړه اوورسره جوخت ډليزه جګړه پيل شوه .. داوخت دخداى استازي وويل :

قسم زما دځان پرواکمن چې که دنن ورځې اسلامي جګړه ماران په صبر او احتساب سره جګړه وکړي او ومري هرو مرو به يي ځاى جنت وي ، له دى سره سم څه ډير وخت لانه وتيرشوې چې داسلام دغه کوچنۍ ډلګۍ دکفر پر کپريو وروختلې اوبرلاسې شوه .

ـ څنګه ربيعه ، تاهم په جګړه کې برخه واخسته ؟!

زه بې وسلې وم اوله بله پلوه دخداى استازى کوچنيانو ته په جګړه کې دبرخې اخستنې لپاره اجازه نه ورکوله .. ماپه دغه جګړه کې دمسلمانانو سربندنه اوبرياليتوب وليد .. ماددغو غرونو لوړې اوژورې ووهلې ورځم ترڅو دخپلې قبيلې وګړو ته دخوښۍ زيرې ورکړم .

ـ ربيعه ! په رښتياهم ته څومره ويارمن يي چې دغه هرڅه دى په غړولو سترګو ليدلي ، که زه واى نو مابه دخداى داستازي قدمونه ښکل کړي واى او خپل مخ به مې دهغه پرقدمونو ايښې واى ، دعباثر دره خو دهغه له کبله په جنت بدله شوه .

دبريده دخيمې شاته اسلمي ځوانانو دربيعه څخه شپول تاو کړ او غاړې يې دبدر دکيسې اوريدلو ته اوږدې کړې .

ربيعه کيسې ته دوام ورکړ : دخداى استازې دبدر په کنده کې دکاپرانو دمړو پرسرووردريد او ورته يې وويل : ، (( له ماسره خو

خپل رب ژمنه رښتیونې کړه ، تاسې څه ترلاسه کړه ؟)) کوم یوه یې ورته وویل : دخدای رسوله ! له مړیو سره خبرې کوې !! دخدای رسول وویل : (( دوی نن له تاسې څخه په ښه توګه زماخبرې اوریدلې شي .))

دسړیوترشا سلمه په لوړغږ سره وویل : ولې دغه ستروياړ زمونږ په برخه نه شو؟ ! ولې دهغه لورته هجرت نه کوو ؟ !

دقبیلې له سړیوڅخه یوتن ورته وویل : دمدینې په چاپیریال کې څړځایونه نشته ،پنډغاړې اوداوبو ګودرونه هم نشته .

ربیعه وویل : مړه دې وي دنیا ، چې زمونږ اودخدای داستازي ترمینځ خنډ ده ، کوم درناوې اوسرلوړي چې په جهاد کې ده په بل څه کې به یې بیخي ترلاسه نکړئ ؛ ماپه بدر کې ولید چې دخدای داستازي یاران له خپلو شلیدلوګریوانونو ، چاودو پوندو اوخیږولاسووسره دکفر مانۍ ورنسکورې کړې اوستروياړ یې په برخه شو .

دقبیلې دسرمشر بریده غږ ، دوی سره غلې کړه : هلکو!

لږ ساړه خورئ مونږ به همدلته په قریشو اونورو کافرانو باندې دخدای داستازي مرسته کوو اوکه هجرت ته اړتیا پیښه شوه نوبیا هغه سات اوهغه مسلات .

# جلا وطني

څو تنو اسلمي ځوانانو دخدای استازي ته خبر ورکړ چې قریش له یوې ډیرې غټې ډلې سره دغچ آخستنې په غرض له مکې څخه

دمديني پـه لـور كوچيدلـې دخداى استازي لـه خپلو يـارانو سـره داحد دغـره پـه لـور وكـوچيـده ، او جگړه پـيـل شوه ، پـه جگړه كې دبـري لومړې پړاو مسلمانانو وواهـه ، اودويـم پړاو يـې لـه يـوې سرسري گـتـې سره كاپـرانوووهـه ، اودخـداى داستازي يـو شمير مخـور مـلگري دكاپـرانو دناوړه عكـس العمـل ( مـثـله كـولـو ) سره مخامخ شول .

ددغـې جگـړې دسرسري مـاتي خوړنـې اساسـي عـامل هماغـه داسلام دسترقوماندا لـه امر څخه اجتهادي سرغړاوى و چې ددوى پـه ربړونـه منتج شو .

پـه دغـه بـري سـره دكفرشان اوشوكت بيرتـه خپل پخواني طغيان تـه راستون شو.

همدا لامـل و چې دلتـه پـه مدينـه كې دنفاق خويړلن لمبې وكړې اودخـنـدق تـرپړاوه پـورې يـې د اسـلام او اسـلامي دعوتگـرانو پـه لاروكې بنـه ډير ازغي وكرل.

پـه دغـه عصبي پړاوكـې اسلمي ځوانـانو دمديني پـه لور هجرت وكړ اودجهادلـه سپـه سالار سره يوځاى شول .

داكـوع زوى سلمه لـه طلحه سـره مـلـگرې شو دهغـه دآس پـالـنـه اوسـاتـنـه بـه يـې كـولـه ، اودكعـب زوى ربيعـه لـه يـو زيـات شمير اسلمي ځوانـانو سره دجومـات پـه صـفـه ـ چـوبتره . بـاندې واړول . دورځې لـه خـوا بـه يـې دخداى داستازي خدمت كاوه ، اودشپې لـه خوابـه يې دهغـه پرخونـه څوكـي كولـه .

# ستره هیله

دادغه اسلمي زلمي ربیعه لپاره خورا طلا ئي چانس و .

دخدای استازي غوښتل ترڅو دده حق پرځای کړي او یو څه مکافات ورکړي نوورته یي وویل : ( ربیعه ! وغواړه څه غواړې چې دریې کړمه ! )

مګر داسلمي زلمې غوښتنه به څه وای ؟ اوڅه به یي ورڅخه غوښتي وای . ددغه بانډیخې زلمي هیله او آرزو به دځوانۍ اوهلکتوب په دغه پړاو کې څه وه ؟!

ربیعه دلږې چوپتیاڅخه وروسته دخدای استازي ته وویل : دخدای استازیه ! زه په لږ فکر وکړم بیابه تاسوته ووایم .

ربیعه فکر وکړ چې باید څه وغواړې ؟ ! دولت ، شهرت ، اوکه پیمخي ښځه ؟ ! مګر اسلمي زلمې له دغو ټولو شیانو څخه ډډه وکړه اوفکر یي وکړ چې.دغه د نړۍ ځیزونه خوبه په همدغه نړۍ کې پای ته ورسیږي !!

اسلمي زلمي دځوانۍ په دغه لیونۍ دوره کې دنړۍ جاه اوجلال تر پښولاندې پرې اوله خانه سره ورو غوندې وایي : دخدای استازي څخه به دآخرت ګټه وټه وغواړم . هغه چې دی یي دخپل ځان لپاره غواړي .

وروسته تردی چې سایي واخستله اوښه ډاډه شو نودخدای داستازي په خدمت کې سوب شو ، دخدای استازي ورته وویل :

( ربیعه ! څه فکر دی وکړ ؟ ) ربیعه ورته وویل : ای دخدای رسوله ! غوارم زمالپاره دخپل رب په وړاندې سپارښتنه وکړه ، ترڅو ماله اور څخه وژغوري او په جنت کې له تا سره ملګرتیا راپه برخه کړي !!!

تعجب ددغه باندېخي زلمي دلوړعقل او سترې پوهې په اړه چې په ډېر لږ فرصت کې یې ددنیا اوآخرت حقیقت درک کړادخدای له استازي څخه یې ستره هیله وکړه .

دخدای استازي ورته وویل : (( هلکه ! ربیعه ! دابښودنه درته چاوکړه ؟ ! )) ربیعه وویل : په الله قسم چې هیچاهم راته نه ده کړې ، مګرداچې ما خپله فکر وکړ چې دغه نړۍ به هرو مرو له زوال اومینځه تلوسره مخامخ کیږي ، په دغه فاني نړۍ کې هومره روزي الله راکوي چې هغه کفایت کوي ، راځه دخدای داستازي څخه دآخرت غوښتنه وکړه .

دخدای استازي اوږدسکوت وکړ ، ګواکه له دغه باندېخي زلمي څخه یې ددی توقع نه وه چې داسې لوړه اوستره غوښتنه به رامینځ ته کړي ، هغه خودخپلې وعدې اوژمنې څخه په هیڅ صورت خلاف نکوي ! دخدای استازي وویل :

( تردی پرته نورڅه ؟ ! ) ربیعه وویل : نورڅه نه غوارم .

دخدای استازي ورته وویل : ( درڅه ستادغه غوښتنه ومل شوه )

هرومرو (به زه داکار وکړم مګر دخپل نفس په وړاندې الله ته دډېر و سجدو په لګولو سره زما مرسته وکړه )

# پیاوړې ویشتونکې

دخندق پیښه ددووپړاونو : دفاعي پړاو ، اویرغلیزه پړاوترمینځ خورا فاصل حد و .

دفاعي پړاو دمسلمانانو په هجرت پیل اوترخندقه پورې یې دوام وکړ ، اویرغلیزه پړاویې دنبوي لیکونو اواستازیو په لیږدلو سره پیل اودمکې پرفتحې او سوبې پای ته ورسید .

دخندق پیښې ته اسلمي ځوانان له یو سره سوب شوی و ، په دغه جګړه کې ددوی غیشو دډیرو کاپرانو سینې ورغلبیل غلبیل کړې ، دوی په دغه فن کې خورا په زړه پورې مهارت درلوده ، دغو غرنیو زلمیو په خپله سیمه کې په ښکاریانو سرد شهرت درلود ، اودخدای استازي به ددوی ملګرتیا خوښوله .

یوه ورځ دخدای استازي ولیدل چې یو شمیر هلکانو سره په خپلوکې غیشې ویشتل پیل کړه په دوی کې یو اسلمي هلکی . دادرع زوی محجن . هم و ، دخدای استازي ورته وویل : ( تکړه شئ دادی زه له محجن سره ملګرې یم . )

# دحد یبې په لور

دخدای استازي دهجرت په شپږم کال له ځوارلُس سوه ملګرو سره ( چې سل تنه یې یواځې اسلمي ځوانان و ) مکې ته دعمرې په نیت اووت ،یواځې په تیکوکې انغښتې تورې یې له ځانوسره وړې وې .

دخدای استازي دناجيه په نوم يو اسلمی زلمي لـه څوارلسو نورو اسلمي ملګرو سره دډالی شويو څارويو په پالنه اوڅارنه وګماره .

کله چې دخدای استازی عسفان نومې سيمې ته ورسيد ، نودبشربن سفيان الکعبي سره مخ شو ، هغه ورته وويل : دخدای رسوله ! قريش ستاله مسير اوتګلارې څخه خبر شول نودپړانګانو پوستکي يي واغوستل اوله خپلو لنګو اوښو سره راووتل ، اود ذوی طوی په سيمه کې يي واړول ، دادی خالدبن الوليد ترمخه کراع النعيم نومې سيمې ته راورسيد ،

دوی قسم خوړلې چې ته به مکې ته وردننه نه شې !

دخدای استازي وويل : ای افسوس دقريشو په حال چې دوی به دجګړو خوراک شي ! داپردوی څه شوې ؟ کاش چې زماپه لاره کې يي خنډونه نه را مينځ ته کولای !

قريش څه اټکل کوي ؟ ! په الله قسم چې ترهغې به زه دهغه هدف دتحقيق لپاره چې زه يي دهغه لپاره را ستولې يم تر هغه پورې مبارزه وکړم چې يادغه هدف متحقق شي اويا زه بيخي له مينځه ولاړشم .

دخدای استازي غوښتل ترڅو پرکومه بله لار ولاړشي اوله قريشوسره لاس او ګريوان نه شي ... نو هماغه و چې ويويل : (( څوک به په دغه برخه کې زمونږ مرسته وکړي اودغه لارښوونه به په غاړه واخلي ؟ !)) دحمزه بن عمرو په نامه يو اسلمي زلمي

رامخ ته شو او ويېل : دخداى رسوله ! زه به ستاسې لاښوونه وکړم ،

داسلمي ځوان په لارښوونه دخداى استازى له خپلو ملګرو سره (( حديبيه)) نومې يوځاى ته ورسيد ، هم هلته يي وارول ، چاورته وويل : دخداى رسوله! داخو يوه بى اوبو سيمه ده .. دخداى استازي يو غشې راوويست او اسلمي زلمي ناجيه ته يي ورکړ ، اوهغه يوې کندې ته ورښکته شو ، او دکندې خيټه يي وروهله ، تردې چي دچينې په دود اوبه ورڅخه راوخوټيدلې اوله پاسه پرې اوښان ورچوشول او په عين حال کې يوه انصاريه پيغله په منډه اوپه خوښى سره له خپلې سلواغې سره راغله اواسلمي زلمي ته وويل : منم چې اوبه دى رابرسيره کړې وکړي او ژوي دى خړوب کړه ، او وګړو لـه تاڅخه مننه وکړه ، دازما سلواغه درواخله اوله اوبو څخه يي راډکه کړه چې په دې توګه به زه هم درڅخه مننه وکړم اسلمې زلمي دکندې له تل څخه ځواب ورکړ چې : يمنې انجلۍ! ماپه ښه توګه وپيژندلې زمانوم ناجيه دى ، داده ستاسلواغه هم ډکه شوه او درآخله يې .

## درې ځل په مرګ باندې تړون

دخداى استازي دقريشو سرمشرانو ته عثمان رضى الله عنه په دى خاطر وروليږه ، ترڅو هغوى ته خبر ورکړي چې دى اوورسره ملګري يي دعمرې داداکولو په نيت راغلي اوله دوى سره دجګړې اراده نه لري .

قریشو عثمان ته وویل : که ته غواړې نو طواف کولای شې !!
مګر عثمان وویل : زه داکارترهغه پورې نه کووم ترڅو دخدای استازي طواف نه وي کړې ! دعثمان په دغه دریخ قریش په غوسه شول اوعثمان یې له ځانه سره بندیوان کړ،اودخدای استازي ته دهغه دمړینې خبر ورسید .له دې سره جوخت دخدای استازي وویل :( زه به له دغه ځای څه حرکت هم ونکړم ترڅوله قریشو سره پریکړه ونکړم !!

خپل یاران یې دبیعت اوتړون لپاره راوبلل ، په دوی کې اسلمي ځلمي داکوع ځوی سلمه لومړنې ځوان و چې دخدای له استازي سره یې په مرګ باندې درې ځل ژمنه اوتړون وکړ ، دخدای استازي په داسې حال کې ولید ، چې نه ورسره دفاعي ځغره وه ، اونه ډال، نه توره، اونه لیندۍ؛ نوخپل ډال یې هغه ته ورکړ بیا یې خپل تره عامرته ورکړ ، ځکه هغه هم بې سراوسامانه و .
دخدای استازي بیا ورته خپله لیندۍ اودرې دانې غیشي هم ورکړه دی تړون ته دخدای په کتاب کې داسې نغوته شوې :
(( کومو کسانو چې له تاسره تړون وکړ دوی په حقیقت کې له حدای سره تړون کړی او خدای پرې برلاسی دی .)).

## رسواتړون

کله چې دخدای داستازي اودمکې دکاپرانو ترمینځ تړون لاسلیک کیده اوداستازیو تله راتله پیل شوه ؟ نوداوخت کاپران اومسلمانان سره په خپلو کې ګډ وډ شول .. سلمه بن الاکوع

دیوې ونې لـه بیخ څخه ازغې یوې خواتـه کړه اوهلته یې ډډه ووهله . په عین حال کې څلورتنه کاپران هم دغلته راغله اوده ته څیرمه یې ډډې ووهلې اوپه خپلو خبرو کې یې دپیغمبر پـه شخصیت باندې ناوړه بریدونه وکړه .

سلمه کومې بلې ونې ته ولاړ، ترڅو ددوی ناشولته خبرې وانه اوري .

لـه بله پلوه قریشو غوښتل ترڅو ددغه تړون په ترڅ کې داسلام دستر استازي پرضدیوبل رسوا تړون هم پلی کړي اوهغه داچې اویاتنه ټکان یې دیوبل سترتګ اوغدار مکرز بن حفص ترمشرۍ لاندې دحدیبې دغرونو په تړانګو کې ددی لپاره ځای پرځای کړه ترڅو ددوی په فکر پیغمبر په هلاکت ورسوي ، دلته دمحمد بن مسلمه رضی الله عنه ترمشرۍ لاندې دپیغمبر څوتنه یاران دهغه په حراست اوڅارنـه بوخت و اوپـردغه قافلـه او داړه مـاره ډلـه برلاسي شول اوګردسره یې کلک پلک ونیول ؛ددغې داړماري ډلې تک مشر، مکرز بن حفص د اسملي څوان عامر بن سنان په بندکې ولوید او هغه یې له نورو اویاؤ تنو کاپرانو سره یوځای دخدای د استازي په وړاندې سوب کړ : مګر د اسلام پیغمبر له هغوی څخه دغچ اغستنې پرځای هغوی ته دسولې د بشپړ تیا په خاطر ببښنه وکړه.

دمؤامرې افشاکیدولو دکاپرانو سینې نورې هم له غوسې څخه ډکې کړې ان تردې چې ځینو یې پر مسلمانانو د تیګو او غشیو ورول هم پیل کړه چې په نتیجه کې یې یو صحابي په شهادت

ورسید .. داوخت سلمه له یوې کندې څخه د جګړې غږ واورېده چې : دخدای لپاره ای مهاجرینو! ابن زنیم یې په قتل ورساوه! سلمه سمدستي راولاړ شو او بیې لـه څنډه یې پرهغو کاپرانو باندې چې تر ونې لاندې پراته وه یرغل وکړ او وسلې یې ورڅخه ترلاسه کړې او ورته یې وویل : د محمد ( صلی الله علیه وسلم ) په رب قسم ؛ که یوه هم سرپورته کړ نو سربه یې ورڅخه ګذار کړم! نو بیې له څنډه یې دخدای د استازي په وړاندې ودرول ... مګر هغه بیاهم دسولې دبشپړتیا په خاطر وبښل .

# یوشپه د غره په لوړوکې

دسولې دتړون پر بنسټ یې هم هلته په حدیبیه کې خپل څاروي ذبحه کړه اوله احرامو نه څخه ووتل، دادی د خدای استازی له خپلویارانو سره بېرته مدینې ته راستنیږي ، دلارې په اوږدوکې ارام او دمې تـه اړتیا پیداکوي، دیوې کفري قبیلې بنولحیان شاته یې دغره په لوړوکې واړول.. دغره په لوړوکې دپیغمبر ساتنه او څارنه زښته مهمه وه، ددغې دندې د سرته رسولو په خاطر اسلمي زلمي سلمه چمتو شو ، اودغه شپه یې دحدیبې دغرونو په لوړوکې رڼه تیره کړه.

# دتیګو باران

دخدای استازی خپل اوښان لـه ذر بن ابي ذر الغفاري (رضی‌الله عنه) سره ځنګله تـه وشړل، او سلمه بن الاکوع یې دهغوی پـه ساتنه اوڅارنـه بـاندې وګمـاره! سلمه بـه هم هر سهار ځنګله تـه ورتـه اودهغوی څارنـه بـه یې کولـه. یوه ورځ سهار مهال وختي یې دطلحه بن عبیدالله پـه آس پښـه واړولـه اود ځنګله لورتـه رهي سو، دلارې پـه اوږدوکـې ورتـه دعبدالرحمن ابـن عـوف غـلام چې سرتندی یې واهـه مخې تـه راغی او ورتـه یې وویـل:

دخدای د استازي اوښان یې بوتله! سلمه ورته وویل! چابوتله ؟ غلام وویل: دغطفان سړیو شپون وواژه او پراوښانو یې ډانګ کېښود! سلمه وویـل : دی تباه مړو د پیغمبرو دشپانه او اوښانو پـه نسبت څنګه جرئت وکړ؛ پـه داسې حال کې چې ددې پـه څارنه او ساتنه خوېې زه ګمارلی وَم؟! مګر لـه ماڅخه خوپـه هوا مرغی هم نـه شي خلاصیدلای!!

هلکـه ریاحـه! تـه دغـه آس طلحه تـه ورسـوه، او ورسـره دخدای استازي تـه خبر ورکـړه چې کافرانو دده اوښان لـه یوه سره برمتـه بوتله او شپون یې هم پـه قتـل رسولې!!

لـه دې سره جوخت سلمه غره تـه وخوت اود مصیبت ښکارندویـه کړنګولـې غږ یې پورتـه کړ اوبیاد یرغلګرو پـه پلو رهي سو، تردې چې هغـوی یـې لانـدې کـړه او دغیشـو بـاران یـې پـرې پیـل کـړ، هرغیشـي بـه یـې هـرو مـرو دیوکاپـر شـا ورسوری کولـه او دابـه یـې

ورته ویل : در واخله زه داکوع زوی یم؛ نن ورځ به مور راوړي زامن څرګند شي ! يرغلګر پريو تنګي ورغله، اودی د غره لوړې ته وخوت اوله پاسه يې پرې دتیګو باران او شلوک پيل کړ؛ يرغلګرو ټول اوښان پرځای پريښودل اود تيښتي لاره يې ونيوله اوسلمه يې ترشا رهي دی، لازمه ده دوی بايد د خپلو اعمالو په سزا ورسوي څکه دپيغمبر شپون يې وژلې ، اودهغه دمال هتک او سپکاوی يې کړی؛ تردې چې ديرش تنه يرغلګرو خپل څادرونه او وسلې وغورځولې، سلمه پردغو غنيمتونو نښې کيښودلې ترڅو دخدای استازی اودهغه ياران يې په آسانه توګه وپيژني !!

يرغلګر يوبل تنګي ته په تلو اړ شول او اتکل يې وکړ چې دغلته به خوندي پاتې شي ! دادی دوی ته دخپل زعامت عيينه بن حصن مرسته هم راورسېده.. عيينه ته دغره په لوړوکې يو زلمي به نظر ورغی، له خپلو سرپيو څخه وپوښتل : دا زلمي څوک دی ؟ هغوی ورته وويل : دده له لاسه خومونږ کړی، ورځ دوسپنو نيني چيچلي؛ غيشي او تيګې يې پرمونږ راورولي مونږ يې ژوبل او بې وسلې کړو!!

عيينه امر وکړ چې څلور تنه دغره لوړوته ورشئ او خبرې ورسره وکړئ! هلته په رسېدو سلمه ورته وويل : تاسي پوهيږئ چې زه څوک يم؟ هغوی ورته وويل : نه . سلمه وويل : زه داکوع زوی سلمه يم ، دمحمد په رب قسم چې تاسي يويې هم مانه شئ لاندې کولې، اوله ماڅخه به يوهم خلاص نه شئ! نوبيرته سپيره

څټونه راستانه شول او زړونه يې دوېرې له کبله لړزېدل، او له خپلو نورو ملګرو سره وتښتېدل.

دخدای استازي چې کله دابن الاکوع چیغه واورېده نو بې له ځنده يې دهغه دمرستې لپاره يوپه بله پسې: سعد بن زيد، احزم الاسدي، ابوقتاده الانصاري او مقداد بن الاسود ورولېږل: هلته په رسيدو سلمه د احزم داس واګي راښکودل او ورته يې وويل: لږ سره خوره! ډېل وکړه ترڅو دخدای استازي هم راورسيږي؛ مګر د احزم جزبات بيخي څپانده وُ او سلمه ته يې وويل: هلکه سلمه! که ته پرخدای او د آخرت په ورځ باوري اوسې، نو زما اوزما دشهات په لاره کې مه خنډ کېږه! سلمه يې لاره پرېخوده اولکه دتوپان په څېر پردښمن ورغې، عبدالرحمن بن عيينه دهغه اس ورتېپي کړ اودی يې په خنجر وواهه او شهيد يې کړ، مجرم دښمن دتيښتې لار لټوله مګر دخدای د استازي سپوُر قتاده ورسيد اوله ابن عيينه څخه يې داحزم بدل اوغچ واخسته.

ددغې صحنې په ليدلو سره اسلمي زلمي د اکوع زوی سلمه په نورو دښمنانو پسې لکه دباد ور والوت اوخپل ملګری يې ترشا پرېخودل د اسونو دپښو دوړه يې په نظر نه ورتله.. د لمر زېړيو وړانګو هم داسلمي زلمي اوږده ملګرتيا ونه شوه کړای... دښمنان هم د ذوقرد پنډ غاړوته ورستانه شول داد هغوی دسمې لومړنې تم ځای وُ.. هلته يې دتندې له کبله په اوبوپسې ډېرې سرکوندې ووهلې مګر ترشايې اسلمي توپان داوبو څښلو فرصت

په لاس ورنکړي! پای داچې تيښتې ته اړشول ، سربيره دخدای داستازي پراوښانو، خپل دوه اسونه يې هم هلته پريخودل.

دادی د خدای استازی هم دغه تم ځای ته راورسيد.. داسلمي زلمي په سربښندنه اوسوبه خوښ شو.. بلال اوښه راچپه او ذبحه کړه زړه او بوکان يې دخدای استازي ته وريته کړه !!.

سلمه بياهم دخدای استازي ته وويل : ماپرېږده چې زه سل تنه ملګري لـه ځانه سره بوځم او دغه بدعمله دښمنان له يوې مخې لاس ترلي راولم.. دخدای استازي دسلمه د اتلولۍ له کبله وخندل او ورتـه يې وويل : داکوع بچيه ! ته برلاسی شوې نور يې وبښه او پرېږده يې هلته په غطفان کې به يوبل ته د تيښتې او ژوند مبارکي ورکړي )).

## داتلانو مکافه

د خدای استازي بـه دجګړې اتلانـو تـه دهغـوی د تشويق او اتلولۍ پـه خاطر تـل مکافـات ورکـاوه... دادی اسلمي زلمـي، سلمه ته يې هم دوه ډوله مکافات په پام کې نيولې :

۱ ـ مادي مکافه چې د غنيمت د مال څخه يې دوه برخې : ( دپلي اوسپاره ) ورکړه ځکه چې په دغه غزا کې دهغه رول بيخي پياوړی او غښتلی و.

۲ _ معنوي مکافه : چې په دغه ورځ دخدای استازي په دې توګه ستایلی و. (( زمونږ غوره سپور قتاده ، او غوره پلی سلمه دی ))

یواځې دانه بلکې بیرته په ستنیدوکې یې په خپله اوښه له ځانه سره سپور کړ، په یوه اوښه د پیغمبر ترشا سپرېدل په رښتیا هم ستره معنوي مکافه ده .

# داسې مسابقه

دخدای د استازي سپاره په خوښۍ سره دمدینې په لور رهي شول .. دغه څو شیبې داسلمي ځلمي سلمه لپاره په رښتیا هم ډېرې ویاړمنې وې چې ده پکې دخدای د استازي ترشا په یوه اوښه وهلې.. مګر د ویاړ او سعادت شیبې ډېرې اوږدې نه وي.. همداچې دیو انصاري غږ یې ترغوږ شو: څوک دی چې ترمدینې پورې له ما سره په منډه کې مسابقه وکړي ؟! دانصاري تکرار د سلمه دزړه دروازه وټکوله ؛ دخدای له استازي څخه یې اجازه وغوښتله .. هغه ورته وویل (( که ستا خوښه وي .. ))

لومړې خو سلمه په عادي توګه منډه پیل کړه، په دغه دوران کې یې خپله ځواکمنې له ځانه سره سمبال وساتله.. وروسته بیا له خپل انډول سره اوږه پراوږه شو .. پای داچې سلمه دغه مسابقه وګټله .

# شهید شاعر

د " ذوقرد " لـه غـزا څخـه وروسـتـه سـلمه دري ورځـې تـم شـو؛ وروستـه بیـا دخدای لـه استـازي سره یوځـای دخیبر پـه لـور ووت.. دخدای استازي غوښتل ترڅو خیبر ته دلاري واټن په بېړه ووهي نو دسلمه تره عامر بن سنان تـه یې دغه دنده وسپارله . دعربي بدویانو دود داوه چې کله به یې داوښانو سره مله سفر کاږه نو څه شعري بیلګې به یې زمزمه کولې چې دهغې پـه اوریـدو سره بـه اوښـانو ګړانګې دنګې کړې او پـه سرعت سره بـه یې دلارې واټن واهـه ! داخل هم دخدای استازي اسلمي شاعر عامر بن سنان ته وویـل : داکـوځ بچیـه ! رابنکته شه اوڅه وواـیه ! هغـه هم بې لـه ځنډه له وبښ څخه رابنکته شو او ویویل :

* ای لویه څښتنه! کـه تـه نـه وای نو مونږبې لاري وو ! بیابه مو نه لمونځ کولای اونه به مو خیرات ورکولې ! * نومونږ تـه ببښنه وکړه .. اومونږ ډاډه کړه .. مونږ پیاوړی کړه ....

* یاغیـان غـواړي مونږه ښکیـل کـړي.. خـو مونږ ستاپـه فضـل غښتلي یو...!!

دخدای استازي ورتـه وویل : درڅه لوی څښتن تاته بښنه وکړه .. هو! دخدای استازي چې په خپلو ملګرو کې کوم یو یې په ببښنې سره خـاص کـړی هغـه هـرو مرو پـه شهادت رسېدلې! عمر ( رضـی الله عـنه ) پوه شـو او دواښ له سره یې غږ کړ: ای دخدای رسوله ! کاش چې په دغه شخصیت . عامر دې مونږ تـه اوږده ګټـه رسولې

واى !! کله چې لښکر خيبر ته ورسيد نو دخيبري يهودو غښتلي سپور مرحب له خپلې تورې سره ډګر ته راودانګل او ويويل : تولو خيبريانو ته پته ده چې زه مرحب يم يوځل چې وسله پر اوږه کړم بيايي بيرته نه ږدم !

نوعامر يې مقابلې ته راووت او ويويل : خيبريانوته داهم پته ده چې زه عامر يم هغه اتل او قهرمان چې ماهم چاته وسله په زمکه نه ده ايښې!.. نود دواړو ترمينځ د تورو وارونه واړول شوه.. په دغه دوران کې دمرحب توره دعامر په ډال ورغله.. هغه غوښتل ترڅو د ډال نه لاندې دمرحب کيسه پاى ته ورسوي مګر خپله توره يې خپل ځانته وربرابره شوه، پاى داچې سخت ټپي اوشهيد شو.

دپيغمبر ( صلى الله عليه وسلم ) يوشمير يارانو اټکل وکړ چې ده خپل ځان وژلى او خيريه اعمال يې بيځي له مينځه تللي ، وراره يې سلمه زښت زيات خپه شو په منده راغې او دخداى استازي ته يې په ژړه غوني اواز سره وويل : داخلک وايي چې دعامر خيريه اعمال بيځي له مينځه ولاړل؟! دخدى استازي له لاس ځخه ونيو او ورته يې وويل : دوى درواغ وايي ! بلکې دعامر لپاره دوه ډوله اجر دى !!

بيا دخداى استازي په علي ( رضى الله عنه ) پسې سلمه ورولېږه.. هغه راغي او ديهودي مرحب مقابلې ته چمتو ودريد.. مرحب يوځل بيا هماغه زړې اوتې بوتې تکرار کړې ؛ علي ورته په ځواب کې وويل: زه هم خپلې مور حيدر بللې يم دځنګله زمري

ته ورته مې له چاځخه سترګه نه سوزي اونه ورڅخه ويرېږم. بيايې لکه دزمري په دود پرې ور حمله کړه اومرحب يې په هلاکت ورساوه اوله زمکې سره يې ليمخې کړ. په دغه جګړه کې د سلمه پونډۍ تپي شوه چې دپيغمبر دخولې بختورې لاړې يې پرې ورپورې کړې اولوی ځښتن روغ رمټ کړ.

# فزاري پيغله

دخدای استازي ، فزاره نومې يوسمې ته دابوبکر ترقوماندې لاندې يو ګروپ مجاهدين ولېږدول ، په دغه ګروپ کې داکوع زوی سلمه هم برخه وال و. هلته په رسيدو ، فزاره سيمې ته نيژدې د اوبو پريو ګودر، ابوبکر مجاهدينو ته داړولو امر وکړ.. سهار لمر ځرک سره ابوبکر د جګړې قومانده ورکړه اويو زيات شمير فزاريان يې وژل ؛ يوه ډله يې چې ښځې او ماشومان هم پکې و نيژدې يو غره ته وتښتېدل .. سلمه ورپسې جوخت ورغې فکر يې وکړ چې که دوی دغره په تړانګوکې تيت شي، نوښايي څه ګواښ متوجه کړي.. نويوغيشي يې ور پسې ورخوشې کړ چې ددوی اود غره ترمينځ ولګېده.. هغوی چې کله ددوی جګړېزه ولوله او پياوړې سرښندنه وليده نود منښتې لاسونه يې پورته کړه او تسليم شول، په دوی کې يوه عمر خوړلې ښځه اوترځنګ يې يو خورا پيمخې پيغله هم ولاړه وه.

پېغلې له خپلو محاسنو څخه دسترګو لینده راواخسته او د بېو غیشي یې پرې کېښود او په اسلمي زملي سلمه پسې ور ایله کړ او هغه یې روغ دزړه په سر وویشت !! وګورئ ! کوم غیشې ډېر پیاوړی او اغیزمن دي ؟! هغه چې سلمه ایله کړ او دغره بیخ ته ولړېد . او که هغه چې پېغلې ایله کړ او دسلمه په زړه ولګېد ؟!!

سلمه د فزارۍ پیغلې دمینې په لومه کې داسې ونښت چې بیایې ځان خلاص نه کړای شوز. او دغه څپانده مینه او وجدیې دځو شیبو لپاره هم پټ ونه شو ساتلی.. صدیق رضی الله عنه پوه شو دهغه د جهادي مشاعرو او اتلولۍ د تکریم په خاطر یې بې له ځنډه فزارۍ پیغله سلمه ته وروښله.

اسلمي زلمیه ! داولې ؟ تاخو دلومړي ځل لپاره دمینې په معرکه کې ماتې وخوړه ؟! ته خو هغه اتل وې چې نور اتلان به دې پسې اخستل ، او غیشې به دې بې هدفه نه تـه ؟! څنګه یوې فزارۍ پیغلې پسې واخستې او دهغې دحسن دقیادت بندیوان شوې ؟! مګرد مینې بندیوان په ځو شیبو کې دننه په خپله مینه متې ور واړولې او د برې پړاو یې وواهه.. دادی له خپلې محبوبې سره یوځای مدینې ته راستون شو.. هلته دیوبازار په لور رهي سو غوښتل یې خپلې مینې ته څه د اړتیا ورشیان ترلاسه کړي.. دلارې په اوږدوکې نابېره د خدای له استازي سره مخ شو، هغه مباشره دفزارۍ پیغلې په اړه ورڅخه وپوښتل ، او بیایې ورته وویل : " سلمه ! دغه ښځه ماته راوښه !! " سلمه

وویل : دخدای رسوله ! زما ښته ښه ایسي او تراوسه پورې مې يې لادمخ څخه پلو هم نه دی اخستی !!!

دده ددغې خبرې په اوریدو د خدای استازي چوپ شو.. سلمه بیرته خپلې خونې ته راستون شو.. خوله ښو څخه یې ساوتلې وه او پرتندې یې د خولو څپانده توپان روان ؤ. سلمه له یوداسې موقف سره مخ شو چې نه له خپل محبوب څخه لیرې دی اونه ورسره نیږدې !! دمینې وږی تږی.. نیږدې ؤ چې زړه یې د مینې په لمبو کې لولپه شوی وای، چې کله یې دخدای د استازي له خولې څخه داخبره واوریده : " سلمه ! داښځه ماته راوښه ". شپه دمینې په تنده کې پرې وغمیده .. ویریده چې خپل عواطف به په واک کې نکړي.. ځکه چې پرخپله مینه خوېي لاګوتې هم نه دي لګیدلې.. سپک راولاړ سو او جومات ته راغې .. دجومات له چت او دروازو څخه یې دخوارلسمې سپوږمۍ په وړانګو کې دخدای د استازي دخونې دروازه لټوله .. هلته ربیعه په نظر ورغې، دجنت په مینه کې دهغه دسجدو شمار معلوم نه ؤ.. سلمه ډیل وکړ ترڅو هغه سلام وګرځاوه، نو سلمه یې خواته ورغې او سلام یې پرې واچاوه .. ربیعه دوعلیکم السلام په ویلو سره ورته وویل : هلکه سلمه ! ته خو دا اوس اوس له غزا څخه راستون شوی یې، په دغه نیمه شپه جومات ته ستا د راتلو لامل او نګیزه څه ده ؟!!

ـ سلمه وویل : ای زما اسلمي وروره! د زړه ستړیا راته پېښه شوې زما مرسته وکړه !

ـ ربیعه وویل : څه غم او ستړیا درپیښه شوې ؟!

ـ سلمه وویل : ددغې فزارۍ پیغلې د مینې په لومه کې ښکیل شوی یم، اودخدای استازي وایي چې : ماته یې راوښیه !

ـ ربیعه وویل : دبور چنډې بچیه ! دخدای رسول یې غواړي اوته یې لانه وربښې ؟! دخدای رسول غواړي دغه ښځه دمکې کاپرانو ته ورولیږدوي اوپه بدل کې یې له هغوی څخه مسلمانان بندیان ترلاسه کړي.

ـ سلمه وویل : دخدای رسول خو به دغه کار وکړي خو زما سینه به ددغې ښځې په بیلتون کې دغمونو کادانه شي !

ـ ربیعه وویل : سلمه ! ته دکومې مینې خبرې کوې ؟ آیا ته له یوې کاپرې ښځې سره مینه کوې ؟! مینه خود اروا ګډون وي دمؤمن او کاپر اروا ګانې سرنه ګډیږي.. که دخدای رسول په دغه ښځه کې څه خیر لیدلی وای نو هیڅ کله به یې هم له تاڅخه دهغې غوښتنه نه وای کړې !! تالکه چې دحدیبې دتړون مادې نه دي لوستې ؟!

ـ سلمه وویل : هغه ځای سوزي چې اور پرې بلیږي !

ـ ربیعه وویل : مونږ دمینې او محبت له ادراک او اغیزې څخه ښه خبریو، خو دسولې دتړون پر اهمیت دخدای استازی ښه خبردی ! سلمه! دهغه ستر جمیل ذات په جمال او مینه ځان مست کړه چې هډو فنا او زوال نه لري! سلمه ! مونږ عرب، په دغو کارجنو اوشګلنو کې ژوند کوو، دنړۍ لپاره نوې اسلامي

مستقبل جوړ ول زمونږ دنده او مسؤ ليت دی.. داوخت همدا اجابوي چې نورې میني به دخدای اودهغه درسول پرمینه قربانوو؛ دادی اوس اوس دخدای استازی د تهجد دلمانځه لپاره را ولاړیږي دخدای قرآن لولي او بې شمیره پرښتې يې اوریدو ته له آسمان ځخه راکوزیږي.. ته هم راولاړ شه اودس وکړه اود تهجد لمانځه ته ځان چمتو کړه!!!

په دابله ورځ د خدای استازی یوځل بیا ورسره مخ شو او ورته يې وویل:

(( سلمه ! داښخه ماته وښیه ! ))

سلمه ورته وویل دخدای رسوله دربښلې مې ده .

نود خدای رسول دغه ښځه بې له ځنډه مکې ته واستوله ، اوپه بدل کې مسلمانان بندیان را ایله کړ؛ اوسلمه بیاد موه غزاته ولاړ.

## په اسلمیانو کې واده

ربیعه ته هغه څه وریپښ شول چې سلمه يې هیله درلوده.. دخدای رسول ولید چې شپه او ورځ دخدای په عبادت اودپیغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) په خدمت کې ډوب دی .. نو ويې غوښتل ترڅو دی دژوند نور شئونو ته هم متوجه کړي، نو مباشره يې ورته وویل : هلکه ربیعه ! واده ولې نکوې؟! ربیعه وویل :داوخت واده ته برابرنه یم، اونه غواړم ستاله خدمت څخه بې برخې شم.. دخدای رسول ورڅخه یوې ډډې ته شو.. ربیعه له ځانه سره فکر

وکړ او ویویل : دخدای رسول له ما څخه ډېر ښه ددنیا او آخرت په ښېګڼو پوه دی ، که داخل یې راته د واده خبر وکړه نو هرومرو به ورته وایم چې: هو! دخدای رسوله ! زه واده ته چمتو یم.

دخدای رسول یوځل بیا خپله پوښتنه ربیعه ته متوجه کړه او ورته یې وویل: هلکه ربیعه! واده نکوې ؟! )) ربیعه وویل: هو! دخدای رسوله ولې نه ! دخدای استازي ورته وویل: (( د انصارو پلانکی کورنۍ ته به ورشې او ورته به ووایې چې زه دخدای رسول راستولی یم ترڅوله هغې پلانکۍ ښځې سره زما واده ترسره کړئ !!.

ربیعه دخدای د استازي له امر سره سم دانصارو کلي ته ورغې او دهغه پیغام اوسپارستنه یې ورته ورسوله. انصارو وویل: سترګې مه شې او هر کله راشې.. په الله قسم دخدای د استازي استازی به مونږ هیڅ کله هم نامراده رخصت نکړو .. نو بې له ځنډه یې دنومورې ښځې واده ورته ترتیب کړ او له یو عالمِ ډالیو سره یې رخصت کړ، دمهر او ولوز په اړ یې هډو ورڅخه پوښتنه ونکړه.

ددغې بختورې معاملې په سر ته رسیدو ربیعه دخوښۍ له کبله نور په جاموکې نه ځایده.. مګرله بله پلوه دیته خپه ؤچې دښځې د ساتنې لپاره هیڅ هم په واک کې نه لري.

هلته په رسیدو دخدای رسول ورته وویل : " هلکه ربیعه ! څه دې وکړه ؟" ربیعه وویل: ډېر درانه خلک ؤ زما یې ډېر درناوی وکړ واده یې هم راته وکړ اوډېرې ډالۍ یې هم راکړې.

مګر دبنځې دمهر لپاره څه نه لرم! دخدای رسول د اسلمیانو مشر بریده ته وویل : دته د خرما دزړي په اندازه سره زر سره راټول کړئ ترڅو دخپلې ښځې مهر يې کړي هغوی همداسې وکړ، بیادخدای استازي ربیعه ته وویل : " داواخله اودخپلې ښځې کورنۍ ته ورشه او ورته ووايه چې داددغې ښځې مهر او ولور شو.

بیاهم ربیعه خپه دی ځکه د واده ولیمه او خوړه يې برابره نه ده. دخدای استازي ورته وویل : " هلکه ربیعه ! ولې خپه ناست يې ؟!" ربیعه وویل : د خدای رسوله ! دولیمې او خوړې لپاره څه نلرم!

دخدای استازي یوځل بیا بریده ته وویل : (( ده ته په ګډه یوه پسه واخلئ ترڅو د واده ولیمه سرته ورسوي ، مګریواځې غوښه کفایت نکوي څه ډوډۍ هم ورسره برابرول حتمي دي؛ په دې رابطه عائشې ( رضی الله عنها ) ته ورشه او ورته ووايه چې هغه یو زمبیل غله دانه راکړه... پای داچې عایشې ورته وویل : په دغه زمبیل کې څه نهه پیمانې وربشې شته .. مګر مونږ تردې پره نورڅه نلرو، خو بیاهم داته در واخله.

په دې ترتیب دربیعه د واده مراسم دیوپسه په حلا لولو او وربشینه ډوډۍ سرته ورسیدل.

# داسې توبه

د جهينه د غرو لمنې په ونو او شنيليو داسې تکه شنې شوې چې نور نو اسلمي ماعز ډيل ونشو ويستلای سمدستې يې په خپلو وزو ډانګ کېښود اودغره په تړانګو کې يې په څړ بوختې کړې. اوپه خپله هم دکومې ونې يادبرې دسورلن په لټن کې شو.. ديوې ګڼې ونې لور ته دتلو په تکل کې و چې د ليرې څخه يوه انساني غونه چې دهمدغې ونې لورته را روانه وه په نظر ورغله .. غونې ته په نيژدې کيدو ځيرشو فکر يې وکړ چې داخو هماغه جهينه پيغله (( مهيره )) ده چې په وړکتوب کې يې له ماسره يوځاى مېږې او وزې پوولې دې خوله ماسره پړاو په پړاو دغرونو دغه لوړې او ژورې وهلې!!

دطفوليت او وړکتوب لوبې دهرډول ککړتياو څخه برئ اوپاکې وي؛ مګر دعمر په تيريدو او دځوانۍ منګ ته په رسيدو دبدني تقرب او جنسي هوس ښکار شي... د اسلام په راوړلو سره ماعز د ژوند ديو نوى پړاو په درشل وردننه شو د جاهليت ټولې نادودې يې شاته وغورځولې، اودتقوى يوه ژوندۍ نمونه ورڅخه جوړه شوه.. پلار يې ومړه، مور يې لاپخوا دنړۍ څخه کډه په سر کړې وه ؛ هزال اسلمي د زوى په دود وپاله او واده يې ورته وکړ چې دادى اوس داهل او عيال څښتن دى.

داوخت دغه هرڅه جهينه پيغلې " مهيره " ورڅخه هير کړه. اوله هغه سره يې دونو او ډبرو دسيورو لاندې په لهو او لعب پيل

وکړ.. فکرېږ وکړ چې دی به په دغسې یو غرني چاپېریال کې ددغې پېغلې په نسبت په عفت او پاک لمنۍ کې خوندي پاتې شي اوکه څنګه ؟!

څوځله یې قصد وکړ ترڅو ( یوسف علیه السلام ته ورته ) له خپل دین او عفت سره تیښته وکړي . مګر شیطان یې زړه دپېمخې انجلۍ پرنرمو خبرو دهغې لورته ورکوږکړ: واه واه هیڅوک هم نشته ؛داد جنت نه راتښتیدلې حوره؛ دا اوږدې زلفې، د اوږده سپینه غړۍ، داسپینه او ورېښمینه سینه او... او...!

داوخت د پیغمبر ( صلی الله علیه وسلم ) داخبره ورڅخه هېره شوه چې هیڅ کوم سړی به لـه کومې پردۍ ښځې سره نه ګوښه کیږي مګرداچې دریم به یې شیطان وي ..!

پای داچې ماعز دګناه په ډنډ کې ښې غوپې ووهلې، خپل کلي ته راستون شو په داسې حال کې چې د معصیت دروند پیټې یې پر اوږه بار وُ، ځمکه یې له پښو څخه تښتیده، نه پوهیده کوم لورته روان دی، که وزوته یې دکلي لارمعلومه نه وای نو هر مروبه د جهینه دغرونو په تړانګوکې ورکې شوې وای. ماعز پوهېده چې دعفت لمن یې خېرې شوې، دګناه ترپیټي لاندې خپل ځان ورتـه داسې بریښیده لکه دیو غره بیخ ته چې ولاړوي اوبې له خنده به پرې راپرېوځي !! ماعز دګناه ترپیټي لاندې دفکر په سمندر کې لامبو وهله: اسلمي هزال چې د زوی په دود یې پاللی وُ ورڅخه وپوښتل: هلکه ماعزه ! ولې اندېښمن یې ؟!

ماعز خبره پته نکړای شوه بلکې په صراحت سره يې وويل چې : نن له مهره نومې يوې ښځې سره مخ شوم هغه ماله پخوا څخه پيژندله.. تول ورخ له هغې سره لوبيدلې يم او هغهڅه مې ورسره وکړه لکه يوسړی يې چې دخپلې ښځې سره کوي.. مګر په خپله کړنه زښت پښېمانه يم: نه پوهېږم څه وکړم؟

هزال نه پوهېده چې دخدای لور ته د ورتګ دروازه پرانسته ده اوپواځې صادقانه توبه دده لپاره کفايت کوي.. خوماعز ته يې وويل : دخدای استازي ته ورشه هغه به ستا دغه درد دواء کړي؛ همداچې ماعز دخدای داستازي په وړاندې سوب شو او ورته يې وويل : ای دخدای رسوله ! ما پاک او سپيځلې کړه! دخدای رسول ته داخبره ښه نه برښېده چې ګنهګار دې په جهري توګه په خپله ګناه اعتراف وکړي ، نوماعز ته يې وويل : ( څه خوارشې خدای ته توبه اوباسه )) درې ځل دخدای د استازي او ماعز ترمنځ همدغه توري تبادله شول. په څلورم ځل يې ورته وويل : " له څه نه دې پاک کړم ؟! )) ماعز وويل : د زناله جرم څخه .. دخدای استازي خوا وشا د اسلم سړيو ته وويل : دغه سړی خوبه ليونی نه وي ؟! اسلميانو وويل : دی خو روغ رمټ دی. (دخدای استازي وويل: )) شراب خويې نه دي څښلي؟

_ له اسلميانو څخه يوسړی ورپورته شو او خوله يې وربوی کړه او ويويل :شراب يې هم نه دي څښلي. ۱

_ دخدای استازي ورته وويل : " ايا زنادې کړې ؟! "

_ ماعز وويل : هو ! ما زنا کړې .

ـ بیاهم مهربان پیغمبر په ده باندې دپردې اچولو په خاطر ورته وویل: " هلکه ماعزه ! هسې مچوبه دې ورځخه اخستې وي اویابه دې سکوندلې وي اوتابه اټکل کړی وي چې مازنا وکړه !!! ".

ـ مګر ماعز په لوڅو الفاظو کې دزنا په کولو صراحت وکړ.

دخدای استازي نودماعز خلاصون ته تردې پرته بله لارپیدا نکړه، مګرداچې خپلو یارانو ته یې امر وکړ ترڅو دی دبقیع الفرقد په ساحه کې په تیګو وولي او بالاخره ترتیګو لاندې ومري.

هغوی همداسې وکړه، اوماعز په همدې توګه دګناه له پیټې څخه خان سپک کړ. درې ورځې وروسته دخدای استازي دهغه دتوبې په اړه وویل : " که دده دتوبې اجر او ثواب پریو بشپړ امت وویشل شي نودهغوی لپاره به کفایت وکړي ؛ اودی ماولید چې دجنت په نهرونو کې یې لامبلې".

# د سوبې رپی

دخدای استازي دمکې د سوبې او فتحې په دوران کې تولو قبائلو ته د سوبې رپی ترلې وې. د اسلم قبیلې ته یې دوه رپی ( بیرغونه ) ورکړي و. یو ناحیه بن الاعجم، اوبل بریده بن الحصیب ته؛ اودغه امتیاز هغوی ته دهغوی دقهرمانی او اتلولی په خاطر ورکړشوی و؛ له بله پلوه دوی لومړني خلک و چې په اسلام کې یې رپی اوبیرغ پورته کړی و.

همدوی وُ چې دمکې دسوبې په دوران کې يې دمکې دغرونو په لوړوڅوکو داسلام رېی رپولې وې. په دويمه ورځ چې د هجرت داتم کال اود رمضان دشلم سره سمون خوري د ايمان لښکرې دسترې فتحې له ستر بيرغ او رېی سره مکې ته ور ننه شول، بتان يې نسکور او دوړې يې ورڅخه پورته کړې؛ چې همدغه ورځ د اسلام په تاريخ کې ترټولو ستره ورځ بلل کيږي .

# دحنين په لور

دخدای استازي ته ګنګوسې ورسيدچې: د هوازن، عطفان، ثقيف، جشم، اونصر، قبائل د مالک بن عوف النصري ترمشرۍ لاندې سره راټول شوي او د اسلام دستر پيغمبر پرضد جګړه پيل کوي؛ دوی د اوطاس په دره کې دخدای داستازي اودهغه ديارانو د تجسس او پلټنې په خاطر ځای په ځای شول. دخدای استازي د ګنګوسې د حقيقت د جوتلو په خاطر يو تن اسلمي زلمې عبدالله بن ابي حدرد ته امر وکړ ترڅو هلته ورشي اوپه دوی کې استوګن شي اودجګړې له پلان څخه يې بشپړ خبر راوړي... له پروګرام سره سم اسلمي زلمې ولاړ او هلته په نوموړو قبائلو کې استوګن شو، پای داچې له بشپړ معلومات سره دخدای د استازي په وړاندې سوب شو.

داوخت د خدای استازي لس زره صحابه ( رضی الله عنهم ) له ځانه سره ملګري کړي او ددغو قبائلو په لور ووت... ددښمن په

سیمه کې یې پریوه چینه واړول. صحابه دسهار پرډوډۍ ناست و، چې لـه دښمنو پرګنو څخه یوسړی راغی اودپیغمبر دیارانو په وړاندې ودرید.. هغه ته یې د ډوډۍ ست وکړ.. هغه هم په مړه خیټه ډوډۍ وخوړه او راولاړسو، ښکته اوپورته یې دخدای د استازي لښکر ته وکتل مګر لـه پامه یې کم په نظر ورغی.. څیرمه یې اوښ چوکړۍ ؤ ورغې او پښه یې پرې واړوله اورهي سو.

مګر اسلمي زلمیان ددغه کاپر جاسوس په نسبت په غفلت کي نه ؤ پراته .. یو اسلمي زلمي سمدستي راولاړسو او په یوه سره اوښه یې پښه واړول اودجاسوس پـه لـور یـې پـر څاپو کـړه، اوجاسوس یې لاندې کړ.. اسلمي زلمي خیز کړه او دجاسوس اوښ یي له تر څیرې څخه ونیو او چوپې کړ، اوښ لا ګونډې سمې کړې نه وې چې اسلمي په خپله توره د جاسوس مزل ورلنډکړ. سلمه دده اوښ پرخپله اوښه پسې وتاړه اوګرندی بیرته را رهي سو؛ دخدای استازي یې له خپلو ملګرو سره مخې ته وروولاړسو.. پوښتنه یې وکړه: "جاسوس چا وواژه ؟" وګړو وویل : داکوع زوی سلمه وژلې. دخدای استازي وویل : سلب یې ټول دهمده شو."

دلته له بله پلوه دمسلمانانو ځینو لښکریانو ته په خپل کثرت څه غرور راولاړ شو او دلوی څښتن دنصرت او مرستې په نسبت غافله شول.. هماغه ؤ چې د حنین په وادۍ کې دکفر لښکریانو رښا ورخ پرې ماښام کړ اودنبوي قلمرو یو زیات شمیر ملګري پرشاشول؛یواځې دنبوت مقام لـه یولږ شمیر ملګرو سره ددښمن

په ورانديې لکه دپولادو دديوال په څير ولاړو.. تره يې عباس بن عبدالمطلب دکچرې واګې ونيول اولاسونه يې ومروړل چې خدای مه کړه د خدای استازي ته څه زيان متوجه نه شي !!

دخدای استازي به ددښمن په لور دپرمختګ هڅه کوله او همدابه يې ويل:

" زه پيغمبر يم درواغ نه وايم ،زه د عبدالمطلب خوی يم. بيايي عباس ته وويل چې : انصارو ته چيغې کړه ترڅو زماخواته راشي.. له دې سره جوخت ټول انصار د لبيک په ويلو سره بې له ځنده خپلې تورې او ډالونه راپورته کړه اودخدای د استازي په خواکې ودريدل ... بيايې دخدای د استازي له امر سره جوخت پردښمن يرغل وکړ، او دلوی څښتن په مرسته پردښمن بريالی شول .. څه يې ورځخه په هلاکت ورسول او څه يې ورځخه په اسارت کې ونيول .

## مهاجرين په هرځای کې

دمکې ترسوبې وروسته ډلې ډلې قبائلي مدينې ته راغله اوپر اسلام باندې يې دخدای له استازي سره بيعت او تړون وکړ.

دخدای استازي لازمه وبلله ترڅو اسلمي وګړي بيرته خپلې سيمې ته ستانه شي... اوپه ديکې يې مصلحت ونه ليد چې باندې اوکلي دې په بشپړ توګه له وګړو څخه تخليه شي.. نو همدغه و چې دخدای استازي اسلميانو ته وويل :" غوره به داوي چې تاسي بيرته خپلې سيمې ته ستانه شئ.. مګر اسلميانو سره

داویـره پیداشـوه ، چـې خـدای مـه کـړه خپـلې سیـمې تـه پـه ستنیدوېې دهجـرت اجـر او پـاداش لـه لاسـه ونـه وځـي .. مګـر دخدای استازي ورته وویل " تاسې په هر ځای کې مهاجر یاست " همـاغـه وُ چـې بیـرتـه د عبـاثر درې تـه ورستـانه شـول اودجهینه پـه ترانګو ځای پرځای شول .

## ځلانده ګوتې

دتبوک پیښـه دخـدای د استـازي دسـترو جـنګي او عسـکري تکنیکونو څخه ګڼل کیږي چې اسلامي تاریخ تـه یې ستر ویاړ وړپـه برخه کـړی.. پـه جزیره العرب کې دخدای استازي دعمومي نفیـر اعلان وکـړ، ولې چـې دښمن پـه مادي لحاظ ډېر غښتلی او پیاوړی و "!!

هـو! دروم د امپـراطوری مـراندې تـردریو لویـو وچـو ـ آسیـاء ، اروپـا ، آفـریقا ، پـورې غځـول شـوې وې.. هغـه دچـاخبره دهغـه وخت پرتـوله نـړۍ یـې ګـونـده وهلـې وه !! د اسـلام لـه بنسټیـزه تحـولاتـو څخه دغې امپراطورۍ تـه پـه عربي نړۍ کې سخت ګوابښ متوجه وُ.. همـاغـه وُچـې پـر پیغمبـر اودهغـه پـه لښکـر یـانو بـاندې یـې دیـرغل پـه نیت خپـل خـواکـونـه د اردن پـه جنوب کې دبلقاء پـه لوړو کې ځای پرځای کړه. دخدای استازي قبائلو تـه خپـل استازي ولیـږدول او دیـرش زره جـنګیـالي یـې خـدمـت تـه سـوب شـول. دخدای استازي خپـل اسلامي جنګیالي د روم پـه لـور وخوځول، دسختـو صحـرایي واټـنونو پـه وهـلو سـره دادی دشـام پـه جنوبي

لوړوکې دتبوک سيمې ته ورسيدل.. هلته يې ددښمن څه نښې نښانې په نظر ورنغلې.. هو! دښمن ته يې دويرې له کبله شپږ کلنيزه بوساره هم نه شوه تينګيدلای.

نيژدې يوه مياشت د اسلام لښکريان د تبوک په سيمه کې اوښتل او را اوښتل؛ دروم له پولو څخه ورتيرشول، سترې سترې کلاګانې يې فتحه کړې او اسلام يې هلته برلاسې کړ.

دبيرته راستنيدو په صورت کې د خدای استازي غوښتل ترڅو د تنګي پرسر ولاړشي.. مګر نورو لښکريانو ته يې اعلان وکړ چې دوی بايد په تنګې کې ښکته ولاړشي.

دلته له بله پلوه منافقانو ته فرصت په لاس ورغې. فکر يې وکړ چې دپېغمبر ګوښې کيدل پرهغه ديرغل لپاره ښه په زړه پورې چانس دی!!.

نودتنګي په سرکې له خپلو اوښانو سره خای پرخای شول، کله چې دغلته دخدای استازی راښکاره شو، نو منافقانو له خپلو اوښانو سره دهغه د اوښې په وړاندې مزاحمت وکړ، ترڅې چې ځنې متاع او سامان آلات يې هم ورڅخه ولويد.. مګر لوی ځښتن هرومرو دخپل پيغمبر ساتنه کوله.. دخدای استازي چې کله ددوی په مکر وپوهيد، نومنافقان د شپې په تيارو کې ډير ژر سره په تنګي کې له مسلمانانو سره ځانونه ګډ وډ کړ.

دخدای استازي له اسلمي خوانانو څخه د حمزه بن عمرو په نامه يو تن هلته وليږداوه ترڅو دده له اوښې څخه لويدلی سامان الات ترلاسه کړي. د حمزه بن عمرو هلته په رسيدو دشپې تياره لاپسې خپره شوه،

هک پک اریان شو چې باید څه وکړي، چې نابېره یې دخپلو پنځو ګوتو څخه رڼا پورته شوه او هرڅه ورته په ډاګه شول آن تر متروکې، رسی او څادره پورې یې ترلاسه کړه.

## په مروکې قبر

د خدای داستازي تروفات وروسته د اسلام پر تنکیو اوشنو باغونو د ارتداد تاوده بادونه راولګېدل! ډېرو قبائلو د زکات دنه ورکولو دریغ غوره کړ؛ خینو یې پکې دپیغمبری دعوې هم وکړې.. د اسلم قبیله په خپل حال پاتې شوه، خپل سرې یې مدینې ته واستول ترڅو دخدای د استازي لـه خلیفه سره د ارتداد د فتنې په له مینځه وړلو کې برخه واخلي.

تردې وروسته بیا دخدای د استازي خلیفه ابوبکر د اسلام دخپرولو پـه خاطـر عـراق او خـتیځو هیوادونـو تـه ولیـږدول اوسـتر سـتر بریالیتوبونه یې ترلاسه کړه! بیاکله چې دویم خلیفه عمر رضی الله عنه دښارونو د جوړولو اساس کیښود، نو ترهرڅه دمخه یې کوفه او بصره تنظیم او ترتیب کړ، ترڅو د ختیځو هیوادونو دفتحه کولو په خاطر د مسلمانانو دمرکزي استوګنځایونو بڼه غوره کړي... په دغو دواړو ښارونو کې یې داسلم د قبیلې لپاره ځانګړي کلي چې داسلم په نامه سره به یادیدل جوړ کړه. اسلمي مشر بریده بن الحصیب له خپلو اسلمي وګړو سره دجهاد په نیت د خراسان په لور ووت، ترډېرو فتوحاتو او سوبو وروسته یې دمرو په سیمه کې استوګنه غوره کړه اوهم هلته ومړ.

داکوع زوی سلمه د اسلام دستر پیغمبر د وصیت سره سم په بیدیا کې د دخراستان او عـراق دښارونو پرځای مدینې ته نیژدې د ربذه په

سیمه کې ځای پرځای شو.. ډېر خله به له خپلو زامنو : ایاس او مسلم او ازاد کړي غلام یزید بن ابي عبیده سره مدینې ته راته اودلمانځه لپاره به یې هماغه ځایونه لټول چیرته به چې دخدای استازی لمونځ کاوه.

د دریم خلیفه عثمان رضی الله عنه تر وژلو وروسته چې کله د مسلمانانو ترمنځ اختلاف مینځ ته راغې، نو سلمه ددغو اختلافاتو څخه ځان بیخي ډډې ته کړ.. تر اتیاؤ کلو پورې یې دعمر مراندې اوړدې شوې، پای داچې دپیغمبر په ښارګوټي مدینه کې ومړ او هم هلته خاورو ته وسپارل شو.

## دنیکانو خصومت

دخدای استازی وروسته تردې دبنو نضیر یهود لـه خپلې زمکې څخه وشړل نـو دهغـوی زمکـه یـې دمهاجرینو او انصارو ترمینځ وویشله. یوه ټوټه زمکه یې ابوبکر، او ترڅنګ یې یوه بله ټوټه اسلمي ځوان ربیعه ته ورکړه.

یوه ورځ دې دواړه د خرماؤ په هغه ونه کې چې د دواړو ټوټو ترمینځ یې دفاصل حد بنه درلود. اختلاف وکړ، اوڅه خبرې یې سره واړولې او راوړولې! په عین حال کې دابوبکر لـه خولې څخه ربیعه ته څه داسې خبره ووتله چې هغه پرې خپه شو! مګرابوبکر پښیمانه شو، سمدستي راولاړ شو او ربیعه ته وویل ژر کوه او لـه ما څخه خپل غچ واخله او هماغه شان ناوړه خبره ماتـه هم وکړه، کومه چې ماتاته کړې وه !! ربیعه دابوبکر دستر شان په پام کې نیولو سره هغه ته لـه خواب ورکولو ډډه وکړه، مګر ابوبکر په غوسه شو او ربیعه ته یې وویل:

هرومرو به له ماڅخه خپل غچ آخلي، ګوندي قضيه به دخدای استازي ته وړاندې کووم!!

ربيعه پرخپل موقف ټينګ ودريد ، او باوري وُ چې دخدای استازی به يې نه ملامته کوي ، نو ابوبکر ته يې وويل : ته چې هرڅه کوې خوزه به هيڅ کله هم تاته ناوړه عکس العمل ونه ښايم.

له دې سره سم ابوبکر راولاړ سو اود خدای دستر استازي په خدمت کې سوب شو، ورسره جوخت ربيعه هم راورسيد.

داد دوه تنه نيکانو ژبني خصومت وُ دخدای د استازي موقف به ددغه خصومت په اړه څه وای .؟!.

دلاړې په اوږدوکې داسلم سړيو په دغه خصومت کې دمداخلې هڅه وکړه او ويويل : پرابوبکر دی خدای ورحمېږي آخر ولې اودڅه په باب دخدای استازي ته ورځي ؟!

ربيعه وويل : تاسو غلي شئ اوبيرته خپلو خونو ته ستانه شئ، ابوبکر دثور په سمخ کې دپيغمبر داسې ملګرتيا کړې چې هغه زما اوستاسې اوګردو مسلمانو دعملونو څخه غوره ده.

د خدای استازي د دغو خبرو په اوريدو سره سرپورته کړ او ويويل:

" ربيعه ! ستا اودصديق ترمينځ څه پيښه مينځ ته راغلې؟!!"

ربيعه وويل : دخدای رسوله ! زما او دهغه ترمينځ څه خبرې لاندې باندې شوې ، په عين حال کې هغه څه داسې خبره وکړه چې هغه ما بده ومنله !

بيايې ماته وويل : ژر کوه اوس ماته هم همغه شان خبره وکړه اوله ماڅخه خپل غچ واخله نوما ورسره ونه منله !

دخدای استازي وويل : " هو! مګر ذاسې ورته ووايه چې : ابوبکره! لوی څښتن دې تاته ښښنه وکړي .

ددې خبرې په اوريدو ابوبکر خوښ شو اودخوښې اوښکې يې په سترګو ډنډې شوې.

# د کتاب علمي مصادر

| | | |
|---|---|---|
| ١ | صحیح مسلم | امام مسلم بن حجاج القشیري |
| ٢ | شرح صحیح مسلم | امام نووي |
| ٣ | مراصد الاطلاع | .... |
| ۴ | اسد الغابه | ابن الاثیر |
| ۵ | السیره الدحلانیه.... | ...... |
| ۶ | سنن ابن ماجه | ابن ماجه القزوینی |
| ٧ | مسند احمد | امام احمد |
| ٨ | حیاه الصاحه | محمد یوسف الکاندهلوي |
| ٩ | طبقات ابن سعد | ابن سعد |
| ١٠ | سیرت ابن هشام | ابن هشام |
| ١١ | صحیح البخاري | محمد بن اسمعیل البخاري |
| ١٢ | فتح الباري | حافظ ابن حجر عسقلاني |
| ١٣ | سنن ابي داود | ابوداود سلیمان ابن اشعث السجستاني |
| ١۴ | سنن الترمذی | ابوعیسی محمدبن عیسی ابن سوره الترمذی |
| ١۵ | دنړۍ معاصر ادیان | نظام الدین شائق |
| ١۶ | غوره خبري | نظام الذین شائق |
| ١٧ | دبنځو نړۍ | نظام الذین شائق |
| ١٨ | دنن په نړۍ کې د مسلمانانو انحطاط ولې ؟ | امیر شکیب ارسلان ( دشائق ژباړه ) |
| ١٩ | سیرت النبي ( ص ) | ابن کثیر |
| ٢٠ | سیرت النبی ( ص ) | سید سلیمان الندوي |




# أسلمي ځوانان

- داسلام دځپانده تاریخ هغه تلپاتي ځیرې دي چي دنوم په اوریدو سره یې. دروم دأمپراطورۍ مراندې وشلیدې، دمجوسیت کوشیرونه تس نس شول، له بت خانو څخه دورې پورته شوې.
- له دغو ځورلو ملخو نو سره به په دغو مخو لیکو کې هرو مرو آشنا شئ.
- مونږ زیارو یستلی چې دغه ویاړلې،تاریخي، او تلپاتي ځیرې تاسې ته له ادبي ذوق سره ورو پیژنو.

خپرندوی

داسلامي دعوت او ثقافت علمي مرکز جهانګیری نوښار پاکستان

ګرځنده لمبر:
۰۰۹۲۳۰۰۵۲۰۶۲۳۲